انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۶/۱۳

# انسان!!

عقل من دی، ځکه ډیر دی په تاوان کی | پیدا شوی، له اول دی په توفان کی
لا لهاند دی، له بادونو او له وریځو | غرونه غرونه، اوریی پروت دی په گریوان
څه له اوره څّه له زوره، دی جوړ شوی | همدا ستره نیمگړتیا ده، په جانان کی
نه شیطان دومره عالم، او نه جاهل دی | لکه دواړه چی موجود دی، په انسان کی
په هرڅه کی لویه برخه، د همده شوه | چی ویشلی الله (ج) برخی په آسمان کی
شاه هنشاه د مخلوقاتو، ورنه جوړ شو | د حسد اوریی تازه، کړو په شیطان کی
اوس دټول جهان مخلوق، سره په جنگ دی | هم یی غابن دی، لگولی په خپل ځان کی

(کلیوال) یی ټول، له ځانه بیزار کړي
نه یي شته، چیری ملگري کهکشان کی

جون/۳/۲۰۱۷

## څلوریزه

گـړنگـو نه را لـویـدلی پـلار د عقل
په خپل ځان دی بلوسیدلی پلار د عقل
نورمخلوق سره یی لوی توپیر همدا دی
چی هر کار کی تیر وتلی پلار د عقل

پای



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com